مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم ګل سحر

۲۰۲۱/۰۳/۰۳

# ژوندی هیلې

هیلي لا مړې نه دي د مشعل لپاره ژوند کوي
یا ستا د خواره واره اوربل لپاره ژوند کوي

ها چې دانسان د نیکمرغي لپاره تللي دي
دا خلک مړه نه دي دا دتل لپاره ژوند کوي

زه دهغو خلکو دپښو خاورې لا هم نه یم
خپل ځان چې ترې هیر وي او دبل لپاره ژوند کوي

فرق دی په هرچا کې د لاس ګوتې هم یو شان نه دي
ځینې د افغان ښوکت د مغل لپاره ژوند کوي

داسي بورا هم شته چې د سرو ګلو رینې زبیښي
داسي بورا هم شته چې د ګل لپاره ژوند کوي

داسي کسان ډیر دي چې په هرڅه کې خپل ځان وینې
داسي کسان لږ دي چې دبل لپاره ژوند کوي

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ